## *د ننداړتون جوړول*

د ماضي د پلټنو نه د يوه روښانه راتلونکي لاره څرګندېدای شي. "له کوچنيو شيانو نه يادونه" د نړيوال تفاهم پرمخ د ميريډيان نړيوال مرکز يو بل هدف بيانوي. دا د متحده ايالتونو او افغانستان ولس ته په دې هيله وړاندې کيږي چې د ارشيفي عکسونو او اسنادو بيا توليدوني به د امريکا او افغانستان تر منځه اړيکو اوتوليد شويو دوستيو په اړه بصيرت تامين کړي.

د دې ننداړتون جوړول يو په زړه پورې سفر ؤ او پلټنو تر شاوخوا يو کاله پورې ادامه لرله. د استعماری امريکا د لرغون پوهنې په اړه د جيمز ډيتز پوهنيز کتاب موږ وپارولو کوم چې بيانوي چې څنګه د وړو او هېر کړل شويو شيانو د بيا لاس ته راوړلو په واسطه لرغوني پيښنو ته بيا روح ورکړل کېدای شي. *ميريډيان د پيښنو ورته لړۍ په پام کښې ونيوله چې په هغې کښې به پلټنه د لرغون پوهنې وي چې پايله به يې د هغه موادو بيا لاس ته راوړنه وي کوم چې د خپل اصلي محيطونو نه جلا کړل شوي وي او په ارشيفونو او د پوهنتون په مجموعو مکښې ايښودل شوي وي. دا په هر حال ډېر ژر څرګنده شوه چې د متحده ايالتونو او افغانستان تر منځه پخوانيو اړيکو تاريخ هم په روښانه يادښت کښې ژوندی پاتې وي.

دې بشري عنصر زموږه پاملرنه د هېر شوي نه ياد شوي لوري ته وګرځوله څنګه چې موږ د داسې افرادو يوه شبکه را رابرسيره کړه چې هغوي د څو لسيزی پخواو نيمه دنيا ليری پيښنی يی شويو سره شريکولی. موږ د هغو افغانانو سره وغږېدو کومو چې ځانګړي ابتکارونه ترتيب کړي وو، د مشرتابه مقام يې درلود، يا کليدي خلک او ځايونه، امريکايي امدادي کارګران، انجينيران، محققان او سياستمداران

---

* جيمز ډيتز، په *"له کوچنيو شيانو نه يادونه" کښې: امريکا د پخوانی ژوند لرغون* پيژندنه (ګارډن ستي، نيويارک: انکر پريس: ډبل ډې)، ۱۹۷۷.

ورپه یاد وو. هغوي په خلاص لاس معلومات سره شریک کړل او موږ یې داسې دوستانو او همکارانو ته معرفي کړو کوم چې دتشو ځایونو په ډکولو وتوانېدل. ډېر ځله موږ ولیدل چې ګډونوالو په عکسونو باندې داسې رڼا واچولی شوه لکه چې دا پرون اخیستل شوي وي. ډېر امریکایی خارجیان چې یو وخت په افغانستان کښې اوسېدلي وو په ځلانده ټکو کښې د خپل تېر کړي په هکله وګړېدل. داسې معلومېده چې افغانانو هم د خپل ژوندانه تر ټولو خوشاله وختونه بیا تېروي.

موږ نندارتون په پنځه موضوعاتو کښې ترتیب کړ. وړومبی برخه چې "لومړنی اړیکې" عنوان لري، د ز څخه تر ز پورې چې دواړو هېوادونو د سفیرانو تبادله سره وکړه، په ځان کې رانغاړي. که څه هم اولنی امریکایي چې په افغانستان کښې یې ژوند کړی دی، په ز کښې راورسېد، د امریکا او افغانستان تر منځه نه شلیدونکی اړیکې یوازې سل کاله وړاندې پیل شوې کله چې یو امریکایي چې د امیر حبیب الله خان له خوا دنده ورته سپارل شوې وه، کابل ته نژدې په جبل سراج کښې د اوبو څخه د برېښنا تولیدولو کارخانه جوړه کړه. د نندارتون دا برخه د هغه ژورنالیستانو، څېړونکو او تاجرانو عکسونه لري کوم چې د افغانستان لیدو له راغلي وو، د هغو افغانانو انځورونه چې په متحده ایالتونو کښې یې زده کړې کړې وی ، او د دواړو هېوادونو ترمنځه د کلونو څخه تر کلونو پورې شوې مکاتبې بیا رایادوي.

د نندارتون دوهمه موضوع د امریکا او افغانستاند مشرانوپه رسمی سفرونو کتنو باندې متمرکزه دی او هغه عکسونه په بر کښې نیسي چې زموږ په ګډ تاریخ کښې د یادونې وړ لحظې ثبتوي. ځینې مثالونه دا دي: په ز کښې د امریکا کانګرس ته د صدراعظم محمد داود وینا، په ز کښې د ولسمشر ډوایټ ډي ایزن هاور د کابل سفر، په ز کښې په واشنګټن ډي سي کښې د ظاهر شا پاچا د جان ایف کینډي سره کتنه او د ورپسې د پاچا د امریکا سفر.

په "پوهنه او پراختیا" کښې انځورونه د امریکا یو څو تر ټولو زیات بریالیو پروګرامونه په سند ثابتوي چې پکښې شامل دي: دسولی هیئت ابتکارونه، په امریکا کښې د افغانانوعلمی زده کړی، او د امریکا د معلوماتي مرکز په کتابتون کښې غونډی. ځکه چې هنري تبادلې له همېشه راهیسې د دواړو هیوادونو د خلکو لپاره، چې یوه له بل په اړه زده کړې وکړي، یوه تر ټولو اغیزمنه وسیله ده. څلورمه موضوع "فرهنګي ډيپلوماسي" انځوروي. دا د موسیقکارانو، لرغون پوهانو، څېړونکیو، مهندسینو او هم د کوچنیانو فعالیتونو ته ارزښت ورکوي. دا برخه آشنا څیری وړاندې کوي لکه لویس ډوپري، د افغانستان پر امورو امریکایي ماهر، او ځینې ناڅاپي سفرکوونکی – لکه د جاز موسیقۍ لویان، ډیوک ایلنګټن او ډیوبروبک.

د ننداړتون پنځمه او وروستۍ موضوع ده: "د زېربنا پرمختیا" چې د همکارۍ د داسې پروژو پلټنه کوي کومو چې په افغانستان کې نوی ټکنولوژی معرفي کړي دي او افغانانو ته یې مسلکي او حرفوي روزنې ورکړې دي. که څه هم د بندونو او لویو لارو جوړول یادګاري پروژی وې، په ننداړتون کښې عکسونه په وخت د لمحو په نیولو دغه هلوځلو ته یو بشري اړخ ورکوی. بالآخره، دغه راز ببړني انځورونه تر ټولو لوی بریالیتوبونه څرګندوي – لکه د ګډې تجربې پر اساس دوستی –په مثالونو کښې شامل دي: د امریکا د کلیوالې پروژې کارګران او افغان کلیوال چې د سړکونو پر څنډو دمه کوي، د امریکا د نړیوالې موئسسې یو زراعتي متخصص چې د یو محلي بزګر سره په خبرو کښې ژور بوخت دی، او د کابل ماشومان چې په ډېره اریانتیا سره د ز جشن مېله کښې د هلمند وادۍ د کجکي بند یو درجوي موډل ته ګوري.

په ارشیفونو، پوهنتونونو او شخصي کتابتونو کښې د عکسونو او سندونو لپاره زموږ پلټنې د ارشیف مامورانو او نورو چې د ننداړتون په اړه له جوشه ډک وو، اساني کړې. ډېر انځورونه د دغو

خبرو اترو په پایله کښې کشف شول، لکه: د ټیکساس د ښارویو متخصص د متحده ایالتونو څخه افغانستان ته د ښارویو رزښتناکه ګله راوستلو لپاره د ساعته سفر نه وروستو کابل ته راتګ، هغه افغان کارګران چې د ز جشن مېلې لپاره یی په ریکاټ ماتوونکي وخت کښې د امریکا د ننداړتون غرفه رایوځای کړه-، او د ز په نیمایي کښې تشکیل شوي د افغانستان د بیس بال لوبډلې. نور د یادوونې وړ انځورونه دا دي: یو افغان پیلوټ څه وخت چې هغه په ویاړ خپل د پېلوټۍ نظامي نښانونه ترلاسه کوي، د امنیتي ځواکونو یوه رضاکاره چې د خپل ځوان افغان محصلانو سره څنګ پر څنګ روانه ده. او امریکایي او افغان موسیقاران چې په ز جشن مېله کښې د خپل اجرا څخه له مخه سلا کوي.

تر ځلوېښتو زیاتو کسانو په دې ننداړتون کی ونډه درلوده او ډېرو افرادو غیرمسلکی کسانو ته ددی ددی جزییاتو ته د لاسرسی لپاره اړوند معلومات ورکړل. له دې کبله چې موږ د هغه کسانو په مناسب ډول مننه کولو لپاره پوره ځای نه لرو، میریډیان په خپله ویبپاڼه باندې د مننلیک یوه پاڼه جوړه کړې ده. د میریډیان له خوا د دې ننداړتون مدیر، ټیري هاروي، مننه کول مهم دي د چا ایثار او هنر چې ددې بهیر لپاره ډېر د ارزښت وړ دي، لینډسې امیني، د میریډیان له اړخه د ننداړتونونو منتظم، ایریکا ګوسګروف، چې پخوا زموږ د کارمندانو له ډلې څخه وه، او هیتر روز، هنري ستاژر، په مهم ډول مرسته کړې ده. ډاکټر کرستوفر ښارنټن زموږ د ډلې یو مهم غړی دی او د څېرونکي په حېث د هغه ابتدایي کردار د وخت تېرېدو سره زیات شو او د کتابتون انتظام او لیکل هم پکښې شامل شول. د ملي جغرفیایي ټولنې ډاکټر فریډرک هېبرټ د افغانستان په باب خپل پراخه علم سره شریک کړو او موږ یې دې ته وهڅولو چې د ننداړتون انتظام په داسې طریقو وکړو کومې چې د دواړه هېوادونو د خلکو لپاره ګټورې وي.

د نیوجرسي په نیوارک کښې د رټګرز پوهنتون د جاز موسیقی د څېړنو انسټیټیوټ ټېډ هرشورن خپل د فوټوشاپ مهارتونه وکارول چې هغه انځورونو ته چې ځینې پکښې ډېر زیات زیانمن شوي وو، بیا

ژوند وبخښي. په چټانوګه، ټيني سي کښې د ستوديو جيمز شوميکر په رنګ سم کړي ښکلي چاپي عکسونه تخليق کړل. او په فيرفيکس، ورجينيا کښې د فريم ماسټرز باب مور او هنرمندانو د نړيوال سفر سختيو زغملو لپاره ډيزاين شوي غښتلي چوکاټونه جوړ کړل. په واشنګټن ډي سي کښې د امريکا دبهرنيو چارو وزارت، سفيرايکن بيري، او په کابل کښې د متحده ايالتونو د سفارتخانې د عامه چارو څانګې هم مننه کوو. د امريکا او افغانستان ترمنځه د پخوانيو اړيکو په باب د يوه نندارتون مفکوره فکر د استازيفرانسيسريچاررونی په ذهن کښې توليد شوی وه، هغه د ميريډيان نړيوال مرکز له خوا د دې پروژې مشري سمبالولو څخه ورستو هم د دې په برياليتوب کښې خپلې پانګونې ته ادامه ورکړه. زموږ هلوځلو ته په واشنګټن ډي سي کښې د افغانستان د اسلامي جمهوريت له سفارتخانې له خوا ډېره مرسته ترلاسه شوې ده.

موږ هيله لرو چې "له کوچنيو شيانو نه يادونه" به د متحده ايالتونو او افغانستان کتونکي دې ته وهڅوي چې په خپل ګډ ماضي بهـفکر وکړي. اورېدونکي به د ډېرو برياليو پروژو په اړه زده کړې وکړي او بايدـفکر به وکړي چې څنګه نورې هلې ځلې نن سبا په  بيل ډول شوی وی. له زرګونو انځورونو، د هغه چا د پيښو نبغ په نبغه تجربه يې کړې ده، د قصو د  اورېدلو او د دې موضوع په باب په پراخه توګه لوست څخه وروستو موږ يو اساسي حقيقت کشف کړ چې کله هم امريکايان او افغانان د يو ګډ هدف لپاره په ګډه سره کار کوي او د يو بل کلتورونو ته په درنه سترګه ګوري نو هيڅ داسې نشته چې موږ يې ترلاسه کولای نه شو. دا نندارتون يوازې هغه چا ته ډالۍ کړل شوې ده کومو چې نه يواځې د يو په ځان بسيا او څوکال فغانستان لپاره په شلمه پيړۍ کښې همکاري کړې ده بلکه په دواړه هېوادونو کښې هغه ځوانانو ته هم څوک چې ښايي  بايد په بل ډول دا قصې وانه وری. دوي د يويشتمې پيړۍ افغانستان د جوړولو مسوليت پر غاړه لري.

ډاکټر کرټس این سینډبرګ
د هنرونو مرستیال رییس
میریډیان نړیوال مرکز
واشنګټن ډي سي